# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد  بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم  از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com  www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |


له پیشرو خپرونی نه

۱۰/۱۰/۱۳

## اوس نو افغانستان د جګړې اصلي ډګر دی

له عراقي خاورې څخه پنځه نوي زره امریکايي سرتیري هغه وخت رابهر شول چې د دې هیواد ولسمشر بارک اوباما د اګست په یودیرشمه نیټه په عراق کې په اصطلاح د امریکا د جګړه ایز ماموریت پای ډاګیزه کړه. اوباما د هغه میز له شا دا ټکی اعلان کړ چې سلف یې د دوه زره دریم کال د مارچ په شلمه نیټه د عراقي خاورې په لور د امریکا د ستر جنګي ماشین د ورخوځیدلو اعلان کړی و. که څه هم چې ویل کیږي امریکا خپله وروستی جګړه ایزه لوا کور ته راستنه کړې ده خو اوس هم په عراق کې نژدې پنځوس زره سرتیري او سمندري ځواک لري چې د امریکايي چارواکو په وینا، عراقي امنیتي چارواکو سره به د "مستشار" او مرستندویانو په توګه کار کوي. په داسې حال کې چې همدا اوس هم په عراق کې د افغانستان پرتله ډیر ولسي وګړي د چاودنو او ډزو په نتیجه کې خپل ژوند له لاسه ورکوي خو له ستراتیژیک پلوه د امریکا په پوځي تګلارې کې دا اوښتون په دې معنا دی چې افغانستان تر بل هر وخت د جګړې اصلي محراق ګرځیدلی دی. اوباما تر ولسمشر کیدلو وار د مخه په ډاګه کړې وه چې د افغانستان جګړه به د هغه بهرنی تګلارې ټاکونکي برخه وي او په دې لړ کې به تر بل هر وخت زیات امریکايي سرتیري افغانستان ته واستوي او همداسې هم وشوه ځکه چې اوس مهال څه باندې نوي زره امریکايي سرتیري زموږ هیواد کې په داسې جګړه کې ښکیل دي چې پایله یې نه تر سترګو کیږي او ورځ تر بلې زموږ د هیواد ملي ښیرازه شکوي او افغانان د غم پر ټغر کښینوي.

په لومړي سر کې د جورج بوش او توني بلیر د ادارو چارواکو او لویو کمپنیو پورې تړلي رسنیو نړیوالو ته په یوه خوله د عراق د ډله ایزې وژنې د وسلو په وړاندې "خبرداری" ورکاوه او ټول یې د دې ټکي منلو ته اړ ویستل چې "نړیواله ټولنه" وړاندې له دې چې اوبه له ورخه واوړي، باید د عراقي ګواښ د ځپلو لپاره ګام پورته کړي. همدا وه چې د امریکا د وخت د بهرنیو چارو وزیر او د خلیج د لومړی جګړې په موده کې د امریکايي پوځ لوی درستیز کولن پاول د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د غونډې په ترڅ کې مضحکه ډرامه تمثیل کړه او د عراق د بیولوژیکي او کیمیاوي وسلو د توکیو د "بیلګو" په وړاندې کولو سره یې د عراقي ګواښ په هکله ګنې د نړی د عامه افکارو اقناع لاس ته راوړله. د عراق له نیواک څخه د اووه کلونو په تیریدو سره اوس هم متحد ایالتونو نشي

کولای د عراق د ډله ایزو وژنو د وسلو په تړاو د هغه کوچني بوتل په اندازه شواهد هم نړۍ ته ور په ګوته کړي چې کولن پاول د امنیت شورا په غونډه کې وړاندې کړي ول.
د متحدو ایالتونو په لاس د عراق د نیواک اووه پر له پسې کلونو ګڼ شمیر بوږنونکي میراثونه هم د تاریخ په پاڼو کې ثبت کړي دي: تر بل هر څه، د دې نیواک د انساني ناورین ابعاد د ابوغریب مخوف زندان بیانولی شي، او هغه نژدې دوه لکه عراقیان چې له ژونده بې برخې شوي دي او یا د عراق هغه مادي او معنوي لاس ته راوړني چې د دې جګړې د اور په لمبو کې لو لېه شوې دي. دا جګړه چې تر اوسه یې امریکا د ترسره کولو لپاره د اته سوه ملیاردو ډالرو بیه پرې کړې ده، د عراق د بډایه موزیمونو په لوټ او لوټه کېدلو سره پیل شوه، چې د وتلي لیکوالي ناومي کلاین په وینا دا د عراق د اقتصاد د لوټمار سمبولیکه ننداره وه. دا هم بې له شکه چې د امریکا اقتصادي کړکیچ د دې لامل ګرځېدلی دی چې امریکا دې دمګړۍ په عراق کې خپل پوځي حضور یوازې هغه برید ته محدود کړي چې خپلې ګټې خوندي وساتي.
دا لومړی وار نه دی چې امریکا په عراق کې د جګړه ایز ماموریت پای اعلاموي. بوش هم د دوه زره دریم کال د مې په شلمه نیټه په عراق کې د جګړې د اصلي پړاو پای اعلام کړ خو وروسته په ډاګه شوه چې دا تازه د جګړې پیلامه وه او داسې پړاو هم راورسید چې په عراق کې د امریکا نژدې دوه سوه زره سرتیري په پراخې جګړې کې ښکیل شول. هغه مهال بوش د ابراهام لینکلن د جهاز وړونکي بېړۍ پر عرشې امریکایي سرتیرو ته د جګړې پای په زیري ورکولو سره وویل چې امریکایي سرتیرو بغداد ته د رسیدلو لپاره دعراق خاورې ۵۰۰ کیلومتره داسې چټک تر پښو لاندې کړل چې د نړۍ تاریخ کې یې ساری نه و لیدل شوی. بوش په وینا کې سرتیرو ته زیاته کړه چې تاسو نړۍ ته د امریکا د وسله وال ځواک مهارت او د مټ زور ور په ګوته کړ. د بوش له وینا سره سم، ګویا توله نړۍ باید د امریکا له هیبت او شامت څخه ولړزیږي او ګنې د نړۍ ګوټ ګوټ یې غلیم دی. د بوش وینا د امریکا له هغه پوځي دکترین سره اړخ لګوي چې د سړې جګړې د مودې په پای کې چې هومره سره هم نه وه او په ترڅ کې یې کوریا، ویتنام، لائوس، کامبوج، افغانستان، ایران او عراق او نورې سیمې د جګړو شاهدې وې، امریکایي پوځي کارپوهانو یه تل دا ویله چې امریکا دې د دوه سیمه ایزو جګړو د جوخت ښکیلتیا لپاره چمتو وي چې اشاره یې عمدتاً د عراق او شمالي کوریا شا و خوا سیمو ته وه.
د عراق په زړه کې د پنځه سوه ملیاردو بشکو تیلو خوندي زیرمو څخه زړه شکول هغه څه نه دي چې د امریکا تاریخ یې ګواهي ورکړي. دمګړۍ، عراق د ورځې څه باندې دوه میلیونه بشکې تیل صادروي چې د ګټې ستره برخه یې د زمري د برخې په څېر د زبرځواک په برخه کیږي. متحد ایالتونه چې له لومړي سره د فرانسې او آلمان له مخالفت سره مخ وو، د عراق د غنایمو په ویش کې میم زر ما ټوله زما وکړه او آن د بریتانیا په څېر د سمڅې یار یې هم تش لاس وشړو چې له امله یې بریتانیا خپل سرتیري له عراق نه په شا کړل او کارکړ ګوند ټوني بلیر د واک له ګدۍ ښکته او ګورډن براون یې ځایناستی شو. متحد ایالتونو چې د انرژې د زیرمو لپاره نه ماتیدونکې تنده لري، هر هغه ځای ته چې د انرژۍ زیرمې په کې خوندي وي، لښکرې لیږلي او په دې لړ کې د نړۍ په ۱۵۰ هیوادونو کې یې شا و خوا دوه میلیونه سرتیري پراته دي.
دا هر څه په داسې وخت کې ترسره کیږي چې د ناټو مشر قوماندان امریکایي جنرال ډیوېډ پټریوس په ډاګه کړه چې جګړې په افغانستان کې تر بل هر وخت زیات زور اخیستي دا ځکه چې اوس هغه ټول دیرش زره تازه دم سرتیري افغانستان ته رارسیدلي چې اوباما یې د تیر کال په سپتمبر میاشت که د راستولو هوډ کړی و.